مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۳/۰۳/۱۴

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (لسمه برخه)



**جنرال مشرف او د بې نظیر بوټو وژل**

د بې نظیر بوټو د وژلو په غبرګون کې خلکو په ټول پاکستان کې لوی لوی لاریونونه وکړل چې په سخت تاوتریخوالي واوښتل، د پولیسو دفترونه او دولتي ودانیو ته اورونه واچول شول، په سلګونو ګاډو، د اورګاډو ډېر تمځایونو وسوزیدل، بانکونه هم وسوزول شول، لارې بندې شوې، د مسلم لیک قاید اعظم ګوند چې د پروېز مشرف متحد ؤ او له بې نظیر بوټو سره یې په ټاکنو کې سیالي کوله، د نوموړي ګوند د ډېرو مشرانو پر کورونو ډزې وشوې او د هغوی د ټاکنو دفترونه هم وسوځول شول، په سلګونو ډالره زیانونه ورسیدل او په تاوتریخوالي کې ۵۰ تنه ووژل شول، یوازې د رېل ګاډي ترانسپورټي سیستم ته ۲۰۰ میلیونه ډالر زیان اوښتی ؤ.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر وویل چې بې نظیر بوټو د (ټي، ټي، پي) د مشر بیت الله مسید له خوا وژل شوي ده، هغه وایي چې موږ د دوی داسې خبرې ثبت کړي دي چې یو بل ته د هغې د وژلو مبارکي وایي. (آزادی راډیو: ۱۳۸۶/۱۰/۸ل. ل)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بې نظير بوټو د وژلو په تور پاکستانيو پوليسو څو کسان ونيول، «د پوليسو په خبره نيول شويو تورنو کسانو ويلي چې د پخوانۍ لومړۍ وزيرې بې نظير بوټو د وژنې پلان د پاکستاني طالبانو پخواني مشر بيت الله مسيد جوړ کړی ؤ.» (بي، بي، سي: ۳۰ وږی ۱۳۹۶ - ۲۱ سپټمبر ۲۰۱۷)

لکه څرنګ چې (ټي، ټي، پي) پر بې نظير بوټو د کراچۍ په بريد کې خپل لاس لرل رد کړي وو، «د راولپنډۍ په بريد کې هم بيت الله مسيد د بې نظير په وژلو کې لاس لرل رد کړل.» (بي، بي، سي؛ آزادۍ راډيو او نور)

مولوي عمر چې ځان په پاکستان کې د طالبانو تحريک وياند بولي، وويل چې بيت الله مسيد د بې نظير په وژلو کې لاس نه لري، پاکستان حکومت په هغه باندې بې ځايه تورونه لګوي، مولوي عمر زياتوي چې بې نظيره د پاکستان استخباراتو (آی، اېس، آی) وژلې ده. (آزادۍ راډيو: ۱۳۸۶/۱۰/۶ل. ل)

د پاکستان حکومتي چارواکو په لومړيو کې د بې نظير بوټو د وژل کيدو په اړه بهرنيو څېړنو ته اجازه نه ورکوله. (آزادۍ راديو: ۱۳۸۶/۱۰/۹ل. ل)

کله چې جنرال مشرف د بې نظيرې په وژلو کې په لاس لرلو تورن شو نو مشرف وويل چې بې نظير بوټو د خپل مرګ مسؤليت په خپله غاړه لري، ځکه چې هغې احتياط نه کاوه. (آزادۍ راډيو: ۱۳۸۶/۱۰/۶ل. ل)

د دې لپاره چې جنرال مشرف له کړي جنايت څخه د خلکو او نړيوالو مخ بلې خوا واړوي، د بې نظيرې د قتل يو احمقانه او بې منطقه تور يې د بې نظيرې او د هغې د ورور مرتضی بوټو د وژلو تور د بې نظير پر مېړه آصف زرداري باندې پورې کړ، مشرف پر خواله رسنيو په يوه خپرې کړې ويډيو کې وويل:«زما پوهاوی دا دی چې د بوټو د کورنۍ بربادي، د بې نظير بوټو او مرتضی بوټو د وژنې مسؤليت د يو کس په غاړه دی، آصف زرداري دواړه ووژل.»

په ويډيو کې مشرف يو بل هوايي ډز هم وکړ چې د هغه  پر حماقت باندې د ده خپل دروغ شهادت وايي، مشرف نه يوازې د بې نظير بوټو پر وژلو د هغې مېړه تورن کړ بلکې حامد کرزی او د افغانستان لوړپوړي چارواکي يې له دې امله چې کرزی له بيت الله مسيد سره اړيکي لري، د بې نظيرې پر وژلو تورن کړل.

خو د پاکستان د پخوانۍ صدراعظمې بې نظير بوټو زوی بلاول بوټو زرداري او لونه يې، بختوره او آصفه بوټو وايي، د دوی د مور د وژنې اصلي مسؤل پخوانی پوځي ولسمشر پروېز مشرف دی.

د ده په خبره، پروېز مشرف له حالاتو د ګټې اخيستلو لپاره بې نظير بوټو ووژله.

د پاکستان پخوانۍ لومړۍ وزيرې د لسم تلين په درشل کې بلاول بوټو زرداري له بي، بي، سي سره په ځانګړې مرکه کې د خپلې مور د وژنې دوسيه کې د ښکېلو کسانو په هکله تفصيلي خبرې وکړې.

دی وايي هغه زلمی د خپلې مور وژونکی نه بولي چې د ۲۰۰۷ز، کال د ډيسمبر پر ۲۷مه يې ماښام په راولپنډۍ کې پر بې نظير بوټو بريد وکړ او ويې وژله.

«مشرف له حالاتو په ګټه اخيستلو سره زما مور ووژله، هغه ترهګر به ډز کړی وي، خو مشرف قصداً زما د مور امنيت نه ؤ نيولی چې په دې سره يې له ډګر وباسي.»

نوموړی وايي، پروېز مشرف د بريد په ورځ د بې نظير بوټو امنيت ونه نيو:«د بريد په ورځ امنيتي تدابير هم ترې لرې کړای شول.»

پروېز مشرف د بلاول بوټو پلار اصف علي زرداري د بې نظير بوټو په وژنه تورنوي او ځينې خلک هم په دې باور دي، خو بلاول بوټو وايي، په دا ډول فکر سره مظلوم له ظالم سره يو شان کول دي.

«زما د مور د وژنې په مسئله کې حقيقت پټول کيږي او د رسنيو له لارې يو ځانګړی اغېز پيدا کيږي او دا کار د مشرف د ژغورلو لپاره دی»

د بلاول بوټو په خبره: حقيقت دا دی چې مشرف زما مور وژلې ده.

کله چې وپوښتل شو له مشرف سره د بې نظير بوټو په وژلو کې چا مرسته وکړه؟ نو ويې ويل: سم نه پوهيږي چې په دې وژنه کې هغه ته چا لاس ورکړ.

« مشرف زه په شخصي ډول د دې وژنې مسؤل بولم، زما سره دا مالومات نه شته چې هغه د دې کار لپاره په ټلېفون لاربښوونه وکړه، يا يې په کومه پټه ناسته کې، د پټ کوډ له لارې دا پيغام ولېږه چې د هغې د وژلو تياری وشي ځکه پر خلکو يا ادارو هم تور نشم لګولی.»

د ۲۰۱۷ز، کال، د تېر اګست مياشتې په وروستيو کې د راولپنډۍ د ترهګرۍ ضد يوې محکمې د آغلې بوټو د وژنې قضيه کې پنځه نيول شوي تورن کسان خوشي کړل، دوه تنو پوليس چاروکو ته يې سزا واوروله او د دغه هېواد پخوانی ديکتاتور پرويز مشرف يې فراري وباله، محکمې په خپله پرېکړه کې د ښاغلي مشرف د شتمنۍ کنګلولو امر هم وکړ.

محکمې دوه پوليس افسران، سعود عزيز او خرم شهزاد، دواړه په اوولس - اوولس کاله بند محکوم کړل، پر خرم شهزاد چې د بې نظير بوټو وژل کېدو پر مهال د راولپنډۍ د پوليسو مشر ؤ، تور دی چې له پېښې سملاسي وروسته د پېښې ځای پرېمنځلو امر کړی ؤ او ثبوتونه يې له منځه وړي وو. (بي، بي، سي: ۳۰ وږی ۱۳۹۶ - ۲۱ سپټمبر ۲۰۱۷)

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د بي نظير بوټو د وژني دوسيه کي د تورنو کسانو د بري کولو له امله پر محکمه هم ډېرې نيوکې کېږي.
بلاول بوټو هم ورته نظر لري:«محکمې د دې وژنې په تړاو د ملګرو ملتونو پلټنې له پام وغورځولې، محکمې د حکومت پلټنې هم له پامه وغورځولې، دوی ټليفوني غږونه له پام وغورځول، له (ډي اېن اې) ترلاسه شوي شهادتونه يې هم له پامه وغورځول ځکه زه وايم چې دې پرېکړې پر انصاف ملنډې وهل شوي دي.»
بلاول بوټو وايي، په دې اند ؤ چې د مشرف د ژغورلو لپاره ځيني تورن کسان قرباني کېږي چې خپله يې محکمې ته اعتراف هم کړی ؤ خو داسې ونه شول. (بي، بي، سي: ۶ مرغومی ۱۳۹۶ - ۲۷ ډيسمبر ۲۰۱۷)
پوهېږو چې د نړۍ په ډېرو وروسته پاتې هېوادونو کې د عدالت پلي کول مشکل کار دی، په تېر بيا د پاکستان په څېر په (شهر ناپرسان) هېواد کې، په دا ډول هېوادونو کې ډېر جنايتکاران آزاد او بې غمه ګرځي چې ښه بېلګه يې د جنرال مشرف په څېر يو ترهګر جنرال دی چې بې نظيره يې په ډېرې بې ننګۍ سره ووژله او قاتل يې د عربو په دوبۍ کې ګرځي. جنرال مشرف د بې نظير بوټو د وژلو پر مهال د پاکستان واکمن ؤ، ده او اډيوالانو يې نه غوښتل چې نوموړې واک ته ورسيږي، بې نظير او د هغې کورنۍ په پاکستان کې د پوځي کودتاچيانو مخالفه وه چې جنرال مشرف هم د کودتاچي مشرانو له ډلې ؤ، «بې نظيره ځکه ووژل شوه، چې غوښتل يې له بلوڅو سره اړيکې ښې او حقونه يې ورکړل شي، همدارنګه ځو ځله يې له نواب بوګټي سره د ځينو مسايلو په هکله ليدني او خبرې کړې وې، همدارنګه د پخواني ولسمشر حامد کرزي سره يې هم د ډيورنډ کرښې په اړه روښانه او څرګندې خبرې کړې وې، ځکه خو د پاکستان له سياست څخه په مرګ لرې کړای شوه چې دا لړۍ لا دوام لري.» (https://larawbar.net)
جنرال مشرف په لوی لاس بې نظيره په ناځوانۍ سره ووژله او د هغې پر وژلو يې له کرښې کوز طالبان تورن کړل خو (ټي، ټي، پي) تر پايه دا ډول لوی مسؤليت ونه مانه په داسې حال کې چې بې نظير بوټو په ۱۹۹۵ز، کال کې د خپلې صدراعظمۍ پر مهال له طالبانو سره د مرستو له امله د طالبانو د مور په نوم مشهوره شوي وه، پاکستانيو چارواکو دا ادعا چې ګواکې ځانمرګی د پښتنو له سيمې راغلی ؤ، که چېرې ځانمرګی د پښتنو له سيمې استول شوی هم وي نو دا به د طالبانو په نوم د (آی، ايس، آی) کس وي، نه د طالبانو.
د بې نظيرې د وژلو شواهد د لمر په څېر روښانه دي چې په لاندې توګه به اشاره ورته وکړو:

- د پاکستان حکومت له خوا د لويې لارې د څراغونو مړه کول چې له هغې لارې څخه د بې نظير بوټو کاروان د شپې له خوا د تېرېدلو په حال کې ؤ.
- د کراچۍ بريدونو په اړه، د جنرال ضياء زوی څرګندونې داسې مانا لری چې د ده پلار د بوټو د ډلې له خوا وژل شوی دی نو په کراچۍ کې د بې نظير بوټو د وژنې هڅه ده کړې ده.
- د پاکستان د حکومت له خوا د بې نظيرې د غونډې پر ځای کې د امنيت نه نيول او د هغه ځای د دروازې د کيليو ځنډول چې ترڅو دقيقو پورې بې نظير بهر ولاړه وه او د غونډې په ځای کې د امبولانس او نورو اړينو احتياطي وسايلو نه شتون.
- د پوليسو له خوا په بېړه سره د چاودنې د ځای پاکول، تر څو د چاودنې او ډزو نښې نښانې له منځه ولاړې شي.
- بهرنيو څېړونکو ته د څېړنو اجازه نه ورکول.
- د جنرال مشرف له خوا د بې نظيرې د وژلو تور د هغې پر ميړه، ولسمشر کرزي او (ټي، ټي، پي) باندې چې دغو ټولو ته مشرف د خپلو دښمنانو په سترګه ګوري.
- تر ټولو مهمه دا چې د (آی، ايس، آی) رييس جنرال نديم تاج هغه څرګندونې چې بې نظير بوټو ته يې پر هغې د بريد مالومات ورکړي وو چې له هغو مالوماتو سرې پوهيدلی شي چې پر بې نظيره باندې بريد پخپله (آی، ايس، آی) تنظيم کړی او له هر څه خبر دی، هغه دوه مخی رول يې لوباوه چې (هم يې د کور خلک خبروي او هم غل خبروي.)

دا ډول دلايل په څرګنده په ګوته کوي چې بې نظير بوټو د مشرف له خو وژل شوي ده او نور ډېر لايل او شواهد چې موږ لاسرسی نه ورته لرو د بې نظير بوټو په وژلو کې د جنرال مشرف د لاس لرلو په ثبوتولو کې مرسته کولی شي.

***يو هغه سړی احمق لرلی بويه***
***چې له ښځو سره پاڅي په جنګونه***
(خوشال بابا)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



(جنرال مشرف)

بې نظير بوټو وړاندې له هغې چې ووژل شي خپل مرګ يې ليدلی ؤ او هر ډول خطر يې د خپلو خلکو لپاره منلی او د خپلو وګړو لپاره يې خپل ژوند قربان کړ، هغې د خپلو خاطرو په کتاب کې له خپل مرګ څخه لږ وړاندې ليکلي دي:«زه له خپل برخليک او هغه څه چې په راتلونکې کې به راپېښيږي هرکلی کوم.» (بې نظير بوټو دختر شرق ۳۱مخ)

«دا منم چې وبه نيول شم، منم چې د [بنينو] آکينو په څېر (چې د مانيل په هوايي ډګر کې د ۱۹۸۳ز، کال په اګست کې ترور شو) ووژل شم، کېدای شي وروسته له هغې چې په هوايي ډګر کې کوزه شم ډزې راباندې وشي... دا خطر د پاکستان د ټولو زامنو لپاره په خپل سر اخلم.»

او د کتاب په پای کې وايي چې ايمان په لوی ښېښتن، خپل ژوند د خپلو خلکو په لاس کې ورکوم. (هماغه کتاب. ۵۵۶-۵۵۵مخونه)

او دا هم ويل کېږي چې بې نظير بوټو پاکستان ته له تګ مخکې د امريکا په کولوراډو کې د يوه هوايي سفر پر مهال چې هغه مهال د امريکا سفير زلمی خليلزاد او مېرمن يې هم ورسره په الوتکه کې ملګري وو، د تازه کولچو له خوړلو انکار کړی ؤ، بې نظير د الوتکې خدمې ته ويلي وو، غواړي وزن کم کړي او له همدې کبله کولچې او نور غوړ ښېزونه نه خوري، خو شېبه وروسته يې د الوتکې خدمتګارې ته وويل:«رايې وړه، له دې سره هسې هم څه نه کېږي، ځکه زه بې له هغې هم ځو مياشتې وروسته مرم.» (ريحان فضل ليکنه: بې بې سي هندي ډيلي)

نېټه: ۱۴۰۱/۱۲/۲۲
نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ